مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۱۹/۱۰/۱۵

# د شهنواز باقر د شعر په بڼ کې

## اتمه برخه

لاسونه ورته لپه کړل باقر په دعاګانو
جنګ بس کړئ، چا ليکل پر دېواله ، پروردګاره

## غزل



ويريږم ګني پوه يم په هر څه، پروردګاره
حالاتو راته لاس ايښی پر خوله، پروردګاره

له مانه يې ته ولې پټ ساتلی يې تراوسه؟
رانيسمه اسمان له ګريوانه، پروردګاره

چترۍ مې پر سر ونيوه، د مينې انتها وه
يو څوک مې پر زړه ډېر را وربېده، پروردګاره

په دوه اربه خلکو کې د سوچ خبره نه ده!؟
يواځې وژل کېږي پښتانه، پروردګاره

منم چې سترګې نه لرم، په سترګو باندې ړوند يم
خو سترګې رسمولی شمه زه، پروردګاره

لاسونه ورته لپه کړل باقر په دعاګانو
جنګ بس کړئ، چا ليکل پر دېواله ، پروردګاره




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ